دیپلوم انجنیر سلطانجان کلیوال ۲۰۱۶/۰۱/۱۸

# د افغانستان د ستونزی د حل د پاره یوه ځــانګړی لار:

## لمړی برخه

ځلور لسیزی پوره شوی چی افغانســتان د هغه اور په لمبو کی سوزی چی د سون توکی یی د همدی وطن بی وزلی او نا توان خلک دی. دا خلک په رښتیا سره ناتوان نه دی، خو کورنیو جاه طلبانو،ساده ګانو او بهرنیو مکارانو، دسیسه کارانو او د دی ملک دښمنانو، د دوی له هری مجبوری او نیمګړتیا ښخه ناوړه ګټه پورته کړی او دوی یی په بیلا بیلو وختونو کی د خپلو غرضونو او هدفونو د تر لاسه کولو د پاره کارولی دی، اوبیایی په خپلو منځونو کی د مــذهـبی، قـومی، ژبنیو، سمتی او نورو په نوم یو له بله لیری کړی، یو بل سره یی جنګولی او بیایی هم خپل هدفونه تر لاسه کړیدی. په هر صورت زه نه غواړم چی په تکراری او کلیشه یی خبرو چی زمونږ ټول وطنوال او نړیوال ور باندی پوهیږی ستاسو قیمتی وخت ونیسم، نو له همدی ځایه د هغو لارو چارو په را سپړلو او په ګوته کولو پیل کوم چی زما په اند دی ستری، اوږدی اوخطرناکی ناروغی ته د یوه ګټوردرمل په توګه د سم استعمال په صورت کی کار ورکولی شی. اوس چی په افغانستان کی د سولی د تامین په منظور نوی هلی ځلی پیل شویدی، د سولی د تامین د پاره دا طرحه چی دوه کاله وړاندی می د محترم احمدشاه درانی له یوه سوله ایز پرپوزل تر مطالعی وروسته چی په انګلیسی ژبه لیکل شوی وه ترتیب کړی وه، او ګڼ شمیر دولتی چاروکو او د سولی د شورا مرکزی دفتر ته می هم لیږلی ده. و می غوښتل چی اوس یی د درنو وطنوالو سره هم شریکه کړم، تر څو د نظر خاوندان هغه د خپلی ټولنی د یوه عینی ضرورت (سولی) د راتلو په هیله تکمیله او د صلاحیت لرونکو له خوا د عملی کیدو د پاره تیاره کړی.

له هغه وخته چی زمونږ ملک د دی ناورین سره مخامخ شویدی، د وطن ډیرو خواخوږو په ملی او بین المللی ساحوکی د دی ستونزی د حل د پاره ارزښتناک ګامونه پورته کړی چی هریویی په خپل ځای کی د قدر وړبولم او ټولو هغودوستانو ته چی د دی غمیزی د ختمیدو د پاره یی هاند کړی کور ودانی وایم.

داچی دی هلو ځلو ولی لا تر اوسه کومه ګټوره نتیجه نه ده ورکړی او تردی وروسته به یی هم ورنه کړی، د نورو لا ملونو سره سره یو لوی لامل یی دا دی: لکه ښنګه چی د تیرو څوار لسو کلونو په اوږدو کی د بیا رغونی کارونه ټول په سرسری توګه تر سره شوی او د سترو مصارفو سره سره یی بیا هم یوه اساسی او بنیادی اړتیا نه ده پوره



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

کړی په همدی توګه یوی طرحی او د ستونزی د حل لاری هم ځکه کار نه دی ورکړی، چی د افغانی ستونزی د حل بنیادی برخی ته پکی پاملرنه، نه ده شوی، اولکه څنکه چی د بیا رغونی د کارونو د بودجی ستره برخه د پروژوی کار پر ځای د خاصو اشخاصو جیبونو ته تللی، په همدی توګه دسولی د تامین او د ټیکاؤ د را تللو په ټولو طرحو او پالیسیو کی د عوامو پرځای د خواصو ګټی او غوښتنی په پام کی نیولی شوی او له پاسنه ښکته لوری ته د ګټو د تامین په منظور ترتیب شویدی نه له ښکته لوری څخه پورته لوری ته.

په دی طرحه کی زیار ویستل شویدی د دی ستری غمیزی د پای ته رسونی د پاره د ستونزی اساسی او بنیادی اړخونه و پیژندل شی او د حل هغه لاری چاری په ګوته شی چی په تطبیق سره یی هم په دی وطن کی دایمی سوله تامین شی، هم ثبات او ټیکاؤ رامنځ ته شی او هم د نړیوالو هغه اندیښنی چی له دی ملک نه یی د مخدره موادو او تروریزم د را پیدا کیدو په برخه کی لری له منځه ولاړی شی.

د معضلی د ښه پیژندنی د پاره مجبوریو چی تر ټولو د مخه د هغی اساسی خواوې په ګوته کړو، د افغانستان روان کړکیچ دری اساسی خواوې لری چی په لاندی ډول دی:

۱ــ د معضلی اساسی او ترټولو مهم اړخ د افغانستان خلک اوپه راس کی افغان دولت دی.

۲ــ دویم اړخ یی د افغانستان ګاونډی هیوادونه او د هغوی دولتونه دی.

۳ــ دریم اړخ یی نړیوال هیوادونه اوسترقوتونه دی.

که دا دری واړه خواوی په همغږی سره کار و نه کړی او یا له دوی څخه هره خوا د خپل مسؤلیت په ساحه کی ناغیری او سستی وکړی، نه یوائی د دی امید نه پیدا کیری چی دا معضله دی حل شی، بلکی د دی امکانات به برا بر شی چی ټولی نړی ته به ستر زیانونه ورسیږی او که بیا هر اقدام صورت نیسی نو ډیر به ناوخته وی.

دادری واړه اړخونه او د هغوی دندی په لاندی توګه په ځانګړو څپرکو (فصلونو) کی ښول کیږی:

## لومړی څـپرکـی

## د افغانستان د خلکو او دولت وظیـفی

### اول ــ د خلکو وظیفی:

۱ ــ د افغانستان ټول اوسیدونکی یو ډول مکلفیت لری چی د ولس او دولت ترمنځ د واټن په کمولو کی زیار و کاړی او د ستونزو په لیری کولو کی همکاری وکړی.

۲ــ خلک او ولسونه د منلو افغانی کودونو چی پښتونولی یا افغانیت ورته وایی د په کاراچولو او بیا را ژوندی کولو له لاری خپلی ټولی ستونزی تشخیصوی او د حل لاری چاری ورته پیداکوی

۳ ــ خلک او ولسونه باید د خپل دولت سره د افغانی کودونو نه د ګټی اوچتونی په برخه کی پراخه همکاری وکړی او ټولی هغه لاری چاری په کاراچوی چی د سولی او ثبات په راوستلو کی مرسته کولای شی.

۴ــ دینی عالمان او قومی مشران چی د ولس او ولسی ژوندانه په جوړښت او سمون کی ډیر لوی لاس لری او د دوی هلی ځلی هیڅکله بی ګټی نه پاتی کیږی، باید د خپل و طن د ساتنی او ژغورنی په خاطر

د دولت او د دولت د مخالیفینو تر منځ د افغانی او اسلامی ګټورو لارو په اساس د مفاهمی لاری پرانزی او د منځګړیتوب ټول واکونه په خپل لاس کی واخلی.

۵ ـ ولسونه د دولت او د دولت د مخالیفینو سره د سولی د راوستلو په منظور باید زیار و باسی چی هسی اشخاص و ټاکی چی اسلامی او ملی تقوا ولری، اسلامی حدودات او افغانی منلی رواجونه و پیژنی.
۶ ـ او بالاخره ولسونه باید په خپلو ساحو کی هسی اشخاصو او ډلو ته چی د تخریبی اعمالو په سرته رسولو سره د دوی د سیمی امنیت او عادی ورځنی ژوندانه ته زیان رسوی، د داخلیدو او نفوذ اجازه ورنکړی او د هر ډول وسله وال عمل په مخنیوی کی فعاله ونډه واخلی.
۷ ـ ټول هغه کړه وړه سرته رسول چی د سولی او ثبات د پاره ګټور او د ولسونو له توانه پوره وی.
دویم ـ د دولت وظیفی:ـ
اوسنۍ دولت چی ځانته یی د ملی دولت نوم ورکړی، د دی د پاره چی دا نوم ریښتینی شی او خلک دا دولت خپل و ګڼی نو ټول ملی او نړیوال منا سبات باید چی د خپلو ملی ګټو د تا مین او نړیوال حیثیت او اعتبار ساتنۍ او ژغورنی د پاره بر قرار کړی. ملی دولت باید د ملی زعامت لرونکی وی او ملی زعامت باید د خپل ولس او د ملت د لوی اکثریت په غوښتنو او اړتیاو باندی وپوهیږی، دا زعامت باید وپوهیږی چی د ډیرو لږو روشنفکرانو نه پرته چی ټول د هیواد په لویو ښارونو کی نسبتاً مرفه او آرام ژوند لری، په کلو او بانډو کی لوی اکثریت او سیدونکی افغانان په دی فکر نه کوی چی واکمن څوک دی، په کوم خیل او ټبر پوری اړه لری، په کومه سیاسی ډله کی غړیتوب لری، د کوم سمت او کومی سیمی دی او بالاخره د کومی عقیدی لرونکی او د کوم مذهب پیرو دی. د ډیرو لږو کسانو نه پرته او په ننني شرایطو کی حتی ټول افغانان چی سهار له خوبه پورته شی نو په دی فکر کی وی چی څنګه بیګاه ته خپلی کورنۍ ته روزی په لاس راوړی، خپله او د کورنۍ نور غړی یی بیرته روغ خپل کاله ته راشی او د ورځی او شپی له خوا د بی مسؤلیته وسله والو د آزار او کړاو څخه په امن کی پاتی شی او همداسی نور فکرونه او سوچونه. نو اړینه یی بولم چی:
الف : په ملی برخه کی:ـ
۱ ـ ملی دولت دی د سردار محمد داود خان له واکمنۍ څخه د حامد کرزی تر واکمنۍ پوری د ټولو دولتی واکمنیوا و نورو وسله والو ډلو د تیروتنو، د قصدی او غیر قصدی تیریو او ناروا اعمالو، جرمونو او ګناهونو د سرته رسولو له کبله د افغان ولس څخه په رسمی توګه بخښنه و غواړی.
۲ ـ په دی ټوله اوږده موده کی خلکو او ولسونو ته د رسیدلو مالی او ځانی تاوانونو اندازه دی تر ممکنه حده پوری د یوه ګډ دولتی هئت له خوا و سنجول شی او ملی دولت دی د خساری د جبران په نوم په دواړو مادی او معنوی بڼو د خلکو او ولسونو د باور او اعتماد د لاس ته راوړلو په موخه د هغی په ورکولواقدام وکړی.
۳ ـ د ملی روغی جوړی عالی شورا دی داسی ورغول شی چی د هیواد د ټولو ولسونو مدبر دینی عالمان، با اعتباره قومی مشران او سیاسی کارپوهان پکی ونډه ولری اوداسی شخص دی د دی شورا مشر توب په غاړه واخلی چی په روانو جګړو کی یی هیڅ ډول ونډه نه وی لرلي او د ښه نړم لرونکی وی، دا عالی شورا به دنده ولری چی د یوه ځانګړی عملی پلان له مخی د وسله والو مخالیفینو سره د خبرو اترو لاری چاری د اسلامی اصولو، افغانی منلو کودونو او نړیوالو تجروبو په رڼا کی و لټوی. د سولی د عالی شورا ترکیب دی په لاندی توګه په نظر کی و نیول شی:

الف : د هرات ، هیلمند ، کندهار ، غزنی، پکتیا، پکتیکا، خوست، ننگرهار ، کونړ ، بدخشان او کندز له ولایتونو څخه پنځه، پنځه تنه او له نورو ټولو ولایاتو له هریوه څخه څلور څلور تنه چی یوه پکی ښځینه غړی وی ، په دی عالی شورا کی دی غړیتوب ولری.

ب: د سولی دی عالی شورا ته دی په اساسی قانون کی د لوی جرگی ځنی ضروری واکونه د واکمن مقام له لوری ورکړل شی.

ج: د سولی عالی شورا په ملی او نړیوالو ساحو کی د تل پاتی سولی او ثبات راتلو په منظور په پوره واک او کاملی بیطرفی سره پر مخ ځی او تر هغی خپل کار ته دوام ورکوی ترڅو هدف ته ورسیږی.

۴ ــ د دولت وسله وال مخالیفین په اوسنی وخت کی د طالبانو، د گلبدین حکمتیار په مشری د اسلامی حزب او د حقانی ډلی دی. د دی ټولو ډلو سره په ځانگړی توگه د افغان دولت اړیکی نیول د سولی د عالی شورا له لاری باید په مستقیمه توگه په هر ځای کی چی وی صورت ونیسی. هغه کړئ یا ډلی چی له دی دریو ډلو نه بهر وی افغان وسله وال نه بلکی نړیوال تروریستان او دهشتگردی د هغوی سره هیڅ ډول خبری نشی کیدای ، باید تر آخره پوری ورسره مبارزه او مقابله وشی.

۵ ــ د حالاتو په درک او د اړتیا په صورت کی د خارجی هیوادونو استازی یواځی د نظارت کوونکو په توگه په خبرو کی گډون کولاشی، د خبرو او مفاهمی صلاحیت یواځی د افغانانو سره دی.

۶ ــ د فساد سره مبارزه او د هغه د له منځه وړل یو بل دروند کار دی چی سرته رسول یی د ملی دولت په غاړه دی، د دی ناروغی د له منځه وړلو د پاره اړینه ده چی په ټول هیواد کی د سرانه عاید اندازه او خصوصاً د ټیټ رتبه دولتی کارمندانو عاید او مصارف سره پرتله شی، د دولتی کارکونکو معاشونه اود کارگرانو ورځنی مزد دی داسی تعین شی چی په عادی توگه د هغوی د ورځنیو او میاشتنیو مصارفو

سره په نسبی توگه اړخ و لگوی او ټول لوړ رتبه دولتی کار مندانو ته دی په فساد کی د ککړتیا په صورت کی د جرایمو د قانون له مخی سزاگانی ورکړلی شی.

۷ ــ د کوکنارو د کرکیلی سره د مبارزی دپاره دی په دولتی تشکیل کی یو باصلاحیته بورد جوړ شی، او د آپین د تولید او قاچاقو د کنترول او مخنیوی د پاره دی یو څلور کلن پلان په لاندی توگه د کوکنارو د کر کیلی د ځانگړی بورد له لوری ترتیب او تطبیق شی:

لومړی کال : د کوکنارو د کرکیلی بورد د کروندگرو سره د کوکنارو پرځای د بل گټور نبات په میندلو کی مرسته کوی او د کروند گرو نه به ژمنه اخلی چی په لومړی کال کی به د کوکنارو په محصولاتو کی ۲۵ سلنه کموالی راولی او د همدی کال تولید شوی آپین به د بازار د نرخ نه په لوړه بیه له کروند گرو نه پلوری او لیکلی ژمنه به تری اخلی چی په راتلونکی کال کی به د کوکنارو په تولید کی ۵۰ سلنه کموالی راولی.

په همدی توگه په دویم کالی کی کروند گر د آپین په محصولاتو کی ۵۰ سلنه کموالی راولی او تولید شوی آپین به په بورد باندی پلوری او نوی ژمنه به ورکوی.

په دریم کال کی به کروند گرد آپین په تولید کی ۷۵ سلنه کموالی راولی، د دی کال تولید شوی آپین به په بورد پلوری او د بورد سره به د څلورم کال د پاره نوی ژمنه کوی.

ځلورم کال به په ټول هیواد کی  د دی ناوړه بوټی د کرلو وروستئ کال وی، کروند ګر به د وروستی ځل د پاره د آپین محصول په بورد پلوری او په دی توګه به ټول هیواد د دی بوټی له شر څخه خلاصون مومی او افغانستان به د تل د پاره له دی درکه د نړیوالو له ژبو څخه لویږی.

نوټ: د یادولو وړ یی بولم چی دولت به د کروندګرو ټولو زراعتی محصولاتو ته بازار پیداکوی او د زراعتی محصولاتو په لا زیاتوالی کی به مسؤلانه مرستی ورسره کوی، اود نړیوالی ټولنی په مرسته به د بورد له خوا را ټول شوی آپین د نړئ د دوا جوړولو په لویو شرکتونو پلوری. که ضرورت وی دا پلان د ځلورو کالو پرځای پنځو کالو ته اوږدیدلی شی.

۸ ـ د یوه منظم پرګرام لاندی له خارجی خصوصآ همسایه هیوادونو څخه د مهاجرینو راستنیدل او په هیواد کی دننه د بی ځایه شوو خلکو بیرته ځای پر ځای کیدل به د ثبات اوسولی د تامین په برخه کی د افغان دولت سره بی له شکه ستره ونډه ولری، دولت دی ډیر ژر په دی هکله اقدام وکړی.

۹ ـ افغان ملی دولت دی زیار وکاږی چی د صادقانه او خالصانه خدمتونو او کړو وړو له لاری د خپلو ولسونو زړونه په لاس راوړی، ترڅو په ولسونو کی د وسله والو مخالیفینو نفوذ راکم او د دولت اعتبار د غوره خدمتونو له لاری لوړ بوزی.

۱۰ ـ د دی ټولو کړو وړو د سرته رسونی د پاره د سالمی، صادقی او ایمانداری  اداری جوړیدل او را منځ ته کول تر ټولو لومړنی شرط بللی شو .

ب : په نړیواله برخه کی:

مونږ ټول په دی باور یو چی نړیواله ټولنه په ټوله نړی کی خصوصاً په افغانستان کی د تروریزم سره مبارزی ته تر د نهایی ماتی ورکونی پوری او په افغانستان کی د تل پاتی سولی او ثبات راوستلو ته متعهده ده او په دی برخه کی به د دوی مبارزه تل جاری وی، نو د دی د پاره چی د افغان ملت دا باور ریښتینی شی، افغان ملی دولت دی په ټول توان سره زیار وکاږی چی تر ټولو د مخه نړیواله ټولنه په

دی و پوهوی چی په افغانستان کی د سولی او ثبات راتلل په لاندی ټکو پوری اړه لری، ترڅو په دی توګه نړیوالی ټولنی ته د غلطو او غرض لرونکو مؤسساتو له خوا د ناسمو معلو ماتو ورکونی څخه مخنیوی وشی:

۱ ـ افغانانو خصوصاً افغان دولت ته د دی وخت اومکمل اختیار ورکول چی خپلی ټولی ستونزی پخپله و پیژنی او د خپلو افغانی کودونو نه په کټی اخستنی سره هری ستونزی ته د حل لاری و مومی.

۲ ـ  دنړیوالی ټولنی خصوصاً د متحده ایالاتو پوهیدل په دی ټکی  ضروری دی چی د افغانانو ګاونډی هیوادونه په ځانګړی تو ګه پاکستان او ایران دی ته و  هڅوی چی په افغانستان کی د سولی او ثبات د راتلو سره مرسته وکړی او یا لا اقل د سولی د پروسی د تخریب نه په هره بنه چی وی لاس واخلی.

۳ ـ افغان دولت دی هڅه وکړی چی د سولی د پروسی د بری د پاره ټولی هغه مؤثری لاری چاری چی په نړیوالی ټولنی پوری اړه لری په کار واچوی چی دتل پاتی سولی او دایمی ثبات په راتلو کی ګټوری تمامیدلی شی.

۴ ـ اوس چی د ناتو د غړو هیوادونو نظامی قوتونه له افغانستان څخه وتلی دی نو څرګنده خبره ده چی په افغانسان کی د دوی په نظامی لګښتونو کی هم کموالی راغلی دی، افغان دولت دی زیار وکاږی چی د نظامی سترو مصارفو یوه ورِوکی برخه له همدی هیوادونو څخه د سولی د پروسی د پر مخ بیونی د پاره تر لاسه کړی.
۵ ـ افغان دولت دی ډیری هلی ځلی وکړی چی په وسله والو مخالیفینو دیوه فشار په توګه دهغو هیوادونو له دولتونوسره اړیکی ونیسی چی له هغه ځایه څخه په دولتی یا مؤسساتی توګه د افغان وسله والو مخالیفینو سره مرستی کیږی او زمونږ په هیواد، منطقه او حتی نړی کی د خلکو سوله ایز ژوند له ګواښ سره مخامخ کوی.
۶ ـ افغان دولت دی د ملګرو ملتو د امنییت له شورا نه رسمی غوښتنه وکړی چی د خپل نړیوال اعتبار څخه په ګټی اخستنی سره له هره پلوه په افغانستان کی د سولی د تامین او دایمی ثبات د راتلو سره مرسته وکړی ترڅو دی ستری غمیزی ته چی نړیواله ستونزه بلله کیږی د پای ټکی کیښودل شی.
۷ ـ افغان ملی دولت دی د اسلامی کنفرانس د یوه غړی هیواد  په توګه د دی کنفراس له غړو هیوادونو له مشرتابه څخه غوښتنه وکړی چی د افغانسان د اسلامی دولت په وړاندی د هر ډول وسله والو او تخریبی اعمالو، نه یواځی غندنه وکړی، بلکی سولی ته د رسیدو په لار کی د افغان دولت سره هر اړخیزی همکاری ولری.
۸ : همدارنګه د شانګهای د غړو هیوادونو څخه د سولی په ټوله پروسه کی د مکمل ثبات تر راتلو پوری د هر ډول مالی او سیاسی همکاریو غوښتنه د افغان ملی دولت د سولی د پر ګرام د بری د پاره حیاتی ارزښت لرلی شی، په دی برخه کی لازم اقدام ته اړتیا لیدله کیږی.
۹ ـ  دولت دی د نړیوالی ټولنی او مرسته کونکو هیوادونو سره د شوو ژمنو د پوره کیدو په منظور د مرسته شوو پیسو د مصرف کیدو صورت حساب په رڼه توګه شریکوی او په راتلونکی کی دی د مرستو د دوام غوښتنی پروسه په خپل وخت سره تعقیبوی.

**دلمړی برخی پای**

**نور بیا**